# د زړه ور سمندري غله تقليد کول



ليکوال :  ( هايس روبرټ )

ژباړه : پښتو

ژباړنه : ماريا صديقي



لومړی مخ

سمندري غل ، مودي یوه ورځ له مور سره د یوه کار لپاره دباندې ولاړ.





دویم مخ

دوی د عطاری په دوکان کې څه واخیستل ، بیایي په خپل ځانګړې رستورانت کې نخود وخوړل .



دریم مخ

تر هغه  وروسته د موډي مور وویل : ( اوه ! موږ باید ډاکټر ته ورشو.)





څلورم مخ

ډاکټر د مودې زړه، فشار او ګوډې وکتلې.



پنځم مخ

وروسته ډاکټر وویل (مودي- دې بله ورځ د پیچکاري لپاره راشي ، چې د ناوړه ناروغیو
څخه وژغورل شي.)



شپږم مخ

د مودي پيچکاري نه خوښېده .



اووم مخ

په هماغه شپه د مودي پلار کورته راغی ، او پلار ته يي د ډاکټر په هکله ټوله کيسه وکړه



اتم مخ

د مودي پلار وويل : ( مودي ! له پیچکاری څخه د ژغورنې لپاره یو څه درښییم ، خوهغه د یوې نقشې له مخې پیدا کولی شې . اوس نو دغه نقشه او زما چټکه بېړۍ واخله اوهغه پیدا کړه . که ته ارامه شي نو کولی شي چې ایسکریم وخورې).



نهم مخ

وڅاره. مودي د نقشې له مخې سمندر تر هغه ځايه چې د اوبو څپې پسې زياتيږي،



لسم مخ

د نقشې له مخې دی د اتشفشان د هغه غره پرسر چې له لاوا ( اور لمبې ) څخه ډك وو، وخوت.



يولسم مخ

نوموړی د غلا پرلاره  له وحشي او خطرناکو حيواناتو تېر شو.



دوولسم مخ

ترڅو چې ده خپل ځان هغې ماڼۍ ته چې دغره پرسر له یخ څخه جوړه شوې وه، ورساوه.



دیارلسم مخ

مودي په ماڼۍ کې یو پاړو ګرچنګاښ ولید، چې د شاهي تخت پرسر ناست وو.





ځوارلسم مخ

چنګاښ ده ته وویل : ( ته له ډېرو ستونزمنو لارو څخه تېر شوی یې ، نو زه به دغه پاړوګره ډېره درته ډالی کړم . او هرکله چې تا ته پیچکاری درکول کیږي ، نو ته به دغه ډېره کیکاږې ، بیا به تر دریو پورې وشمېرې . څو شیبې به په هېڅ ونه پوهېږې او ستا د پیچکاری درمل به حلاص شوي وي ، له دغه کار وروسته کولی شې چې ایسکریم وخورې).



پنځلسم مخ

مودي له چنګاښ څخه ډېر خوشحاله شو او مننه يي ورڅخه وکړه ،او د کور پر لور روان شو، د دې لپاره چې ستوماني يي له منځه لاړه شي، ويده شو.



شپاړلسم مخ

بله سحار ده هماغه کوډګره ډبره له ځانه سره واخيسته او ډاکټر ته ورغی .



اوه لسم مخ

ډاکټر د سندرو په ويلو سره د مودي پيچکاری له درملو ډکه کړه .



اته لسم مخ

مودي خپلې سترګې پټې کړې ، ډبره يې کيکاږله او وې يې ويل : يو ، دوه





شلم مخ

دری !

چنګابښ ربنتيا ويلي وو ، د پيچکارۍ درمل خلاص شوي وو . اوس نو مودي له خطرناکو ناروغيو او له نورو دردونو څخه ژغورل شوی وو.



یوویشتم مخ

ده په لاره کې ایسکریم وخوړل .

دکیسې پای

bluebison.net